مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی خُدران ۲۰۲۳/۱۰/۳۱

د اتوم بم پلار اوپین هایمر عروج او نزوال

سرپزه:

د اتوم بم یا د سولې وسلې تاریخ: په لومړي خل کله چې انسان د اتوم بم جوړولو په اړه فکر وکړ. په 1933 کال کې په هنګري کې د فزیکپوه لیو زیلارډ لخوا د دویم نړیوال جنګ پر مهال و. خو دا مهال ساینس لا جوړولو ته نه و چمتو شوې. یوازې په حدسونو، ګمانونو او اټکلونو کې بم جوړ شوې و. په 1938 کال د دسمبر په 22 مه نښته په برلین کې د اتوم په هسته کې سوري کشف شو. له دې نښې ورسته د اتوم بم جوړولو ته لومړنۍ لار جوړه شوه. ځکه دغې تشخیص څرګنده کړه، چې د یوه غیر کنټرول شوي زنځیري غبرګون اغېز خورا لوړ ویجاړونکي ځواک لري یا رامنځته کوي. تمه او موخه دا وه، چې څنګه د اتوم په هسته کې نغښتي غیر فعاله انرجي څخه ګټه واخیستل شي. په 1945 کال کې د نړۍ په تاریخ کې لومړنۍ اتومي بم وچاودید. بم ته په دې موخه چادونه ورکړل شوه، چې دا به نوې عصر کې د ګواښمنو ډله ییزو ویجاړیو لپاره یوه تر ټولو لویه غوره پیاوړي وسله وګرځي. جاپان کې د دې اتومي وسلې کارونې له امله لږ تر لږه دوه سوه زره کسان په څو ثانیو کې ووژل شول. هیروشیما په یوه ورځ کې په یوه کندو کپره وحشتناکه دښته بدله شوه. د اتومي بم چاودنې رڼا د زرو لمرونو له رڼا څخه روښانه وه. د اتومي بم بیساري راډیو اکټیفي وړانګو ټوله نړۍ په وېره او وحشت کې کینوله. په نړۍ کې سړه جګړه هم پیل شوه، د دې ویجاړونکو وسلو جوړونکو یا مخترعینو څخه یو د اتومي بم پلار جې رابرټ اوپین هایمر و. د نوموتي تکړه ساینسپوه او فزیکپوه رابرټ اوپین هایمر لاسونه هم په سرو وینو ککړ دي. د نوموړي نوم د اتومي بم سره مترادف دی. رابرټ اوپین هایمر د خپل وخت یو له تر ټولو خورا مشهورو فزیکپوهانو څخه و. فزیکپوه رابرټ اوپین هایمر د امریکا متحده ایالاتو لپاره اتوم بم جوړ کړ. نوموړي د لومړني اتومي بم اختراع او پراختیا مسوولیت په غاړه لري، چې بیا ورسته هغه د امریکا د وسلو تسلیحاتي پروګرامونو او اتومي پالیسیو سرسخت منتقد وګرځید. خو په ورته وخت کې د نړۍ سانیسپوهانو په سېمبول هم بدل شو. لومړي له دې امله بنه وستایل او ولمانځل شو، خو بیا ورسته شوروي اتحاد ته د جاسوس په تور په یوه جادویي معامله کې ښکار او د غدار په نامه بد نامه کړل شو.

د اوپین هایمر اړوند پیچلتیاوې او پوښتنې په شلمه پیړۍ کې د ساینس او سیاست ترمنځ د تاوتریخوالي په ساحه کې د لویو امریکایي ډرامو څخه ګڼل کیږي. رابرټ اوپین هایمر له یوه نوموتي ساینسپوه څخه تر متحده ایالاتو ملي امنیت ته ګواښ پورې ورسید. دا تکړه نوموتي فزیکپوه څوک و، چې لومړي یې د اتوم بم ویجاړونکي ځواک ته چادنه ورکړه او سمدستي د اتومي بمونو ویجاړونکي ځواک څخه خبرداري ورکړ او په پای کې د شوروي اجیټ په تور تورن شو او د امریکا د ټولو حکومتي پټو محرمو سیاسي ناستو، حلقو او ادارو څخه وشړل شو.؟

امریکایي فزیکپوه رابرټ اوپین هایمر د منهاتن پروجیکټ مشر او د اتوم بم مخترع پیژندل کیږي. خو د هغه میراث تر دې لا هم ډېر پاتې شوي دی. پوښتنه دا ده، چې هغه خپل ژوند د ساینس، سیاست، او اخلاقو ترمنځ څنګه تیر کړ.؟ ناندرېزه متضاد او افسانوي نوموتي تیوریسان فزیکپوه جولیس رابرټ اوپین هایمر د نړۍ لومړنۍ اتومي بم جوړ کړي. نوموړي د خپلې اختراع سره د نړۍ تاریخ مسیر بدل کړ. هغه په خپله کشف شوي اختراع باندې څومره افسوس وکړ.؟

اوپین هایمر او د هغه ډېرۍ همکاران په دې پوهیدل، چې دوی بشریت ته څه ډالۍ کړي. ډېرۍ ساینسپوهان په شمول د اوپین هایمر د شکونو سره مخامخ ول، ایا دا یو سم کار دی، چې دومره پیاوړي ګواښمنه بده وسله جوړه کړل شي.؟

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا مهال داسي ساينسپوهان هم ول، چې دوی د شوروي اتحاد په وړاندې د سړې جګړې د اټومي وسلو د سیالۍ ملاتړ کولو. ځینو ساینسپوهانو د هایدروجن بم د پراختیا سره خپل مخالفت څرګند کړ. د هایدروجن بم د ساده اټومي بم یو زورور پرمختللي ډول دی. د هایدروجن بم یو سوپر اټوم بم دی. دا مهال د ساینسپوهانو په فکرونو کې ډیرې وختونه یو ډول بدلونونه څرګندیدل، له ابتدایي ملاتړه تر شدید مخالفت او رد پورې رسیدلي وو. ساینسپوهان د اخلاقو یا وجدان له دوراهي سره مواجې شوي ول.

ساینس یا پوهنه د تمدونونو بنسټ جوړوي. د نوي ساینس کشفونه په خلکو کې تجسسونه راپاروي. دغه نوي ساینس هغه څه تشریح کوي، کوم څه چې تر دې مخه د نه پوهیدو وړ وه. حتی ساینس کولي شي نړۍ یوه بڼه مسیر ته لارښوونه کړي. خو څه پیښیږي، کله چې مختراع خپرونکي په خپله ونده باندې پیښیماني څرګنده کړي.؟

په دې لیکنه کې د اټوم بم پلار کیسه راسپړل شوي. که د چا خوښه وي یا نه وي، خو جیلوس رابرټ اوپین هایمر یو تر ټولو مهمو علمي شخصیتونو څخه و، چې تر اوسه په دې برخه کې هغه کار او ژوند کړي دی. دا خبره د اوپین هایمر فلم ډایرکټر کرستوفر نولان د خپل نوي فلم په اړه کړي. د اوپین هایمر په نامه فلم اوس د نړۍ په سیمناګانو کې ننداري ته ایښودل شوي او ما لیکول هم له دې فلمه لیدنه کړي ده. د فلم ډایرکټر کرستوفر نولان د اټوم بم تاریخ پیدایښت او د ځپرل شوي فزېکپوه اوپین هایمر ژوند لیک په فلم کې بیانوي. په فلم باندې ډیرې نیوکې شته، خو په دغه درې ساعته فلم کې عجیبه خبره دا ده، فلم د اټوم بم جوړیدو او پراختیا په اړه دی، خو د هېروشیما او ناګاساکي اټومي برید یوه خبره یا صحنه په کې نه بڼودل کیږي.؟ بڼایي د فلم ډایرکټر امریکایي جنګي جنایات یا وحشتونه په کې نه بڼودل.

د اټوم بم پلار جې رابرټ اوپین هایمر څوک و.؟



په 1904 کال د اپریل په 22 مه نېټه رابرټ اوپین هایمر په نیویارک کې په یوه شتمنه یهودي جرمن کډوالې کورنۍ کې زیږیدلي. په 1888 کال کې کورنۍ د امریکا په متحده ایالاتو کې استوګنه شوې. د هغه پلار د جرمني د هسین ایالات څخه د ټوکرانو واردونکي و. په کوشنیوالي کې رابرټ ښپلا بیل کیمیاوي منرالونه راټول او د نورو ماشومانو سره د لوبې پر ځای په خپل میکروسکوپ کې کتلو. مور او پلار یې رابرټ په ماشوماتوب کې یو نابغه بللو. رابرټ هیڅ ډول ملګري نه درلودل. رابرټ د لیسې څخه تر فارغیدو ورسته لومړي د هاورډ پوهنتون کې کیمیا زده کړه، بیا یې د کیمبرج په پوهنتون کې فزیک زده کړو. د کیمبرج لابراتوار هغه دومره ډیر مایوسه او ستړي کړي و. چې کله نا کله هغه ځان پر ځمکه غورځولو، هاخوا او دیخوا پر ځمکه تیلیدلو. ویل کیږي، چې هغه یو ځلي هڅه وکړه، څو خپل پوهنتون استاد د یوې زهرجنې مني له لیارې مسموم کړي. نږدې و چې رابرټ اوپین هایمر له دې امله له پوهنتونه وشړل شي. هغه د خپل کاره د ناخوښۍ له امله په سخته روانې ناروغي اخته او په کې ډوب شوی و. د همدې روانې ناروغي په بهیر کې غوښتل خپل استاد د زهرجنې مني له لیارې مسموم کړي. همدارنګه کله چې اوپین هایمر ته یوه نږدې ملګري د خپل واده په اړه خبر ورکړ، هغه خپل ملګری په ګیروان کې نیسي، نږدې وه چې خپل ملګری په خفق کولو سره ووژني.

خپله رابرټ اوپین هایمر د اټوم بم کارولو ورسته لیکي: د هغه ماشومتوب دی د نړۍ دې ستر جنایتونو نه دې چمتو کړي، هغه د ماشومتوب یوه ډیره بڼه دوره تیره کړي ده. د هغه او ورور یې فرانک څخه بڼه روزنه او پالنه شوې ده.

رابرټ اوپین هایمر له ډېرو ښپلا ښپلو علومو سره لیوالتیا درلوده. په هارورډ پوهنتون کې کلاسیکه فلسفه، ختیځپوهنه او طبیعي علوم زده کړل. د هنرونو سربیره د مور انځورګري، د فرویډ سیکالوجیکي تحلیلونو او په ځانګړې توګه د لرغونو ژبو سره مینه درلوده. نوموړي په پوهنتون کې یوناني ژبه زده کړه او ورسته په سنسکریت ژبه کې دومره بڼه مهارت ترلاسه کړ، چې هغه د هندي مذهب بهګواد ګیتا کتاب متونونه په اصلي ژبه کې لوستل. د رابرټ اوپین

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هایمر خپل مشهور اقتباس د همدې هندي کتاب په حوله کړي دی. په کوم کې چې هغه ځان د ,, د جهانونو ویجاړونکي,, په توګه ګوري. په لویدیځه نړۍ کې د یونان فلسفه په حقیقت کې د ساینس بنسټ ګڼل کیږي، خو رابرټ اوپین هایمر یو ځلې ویلي و، چې هغه د ختیځ فلسفه یا لیکنې تر یوناني فلسفې ډېرې ژورې او له مفهومه ډکې موندلې دي.

په 1922 کال کې ځوان رابرټ اوپین هایمر د هارورډ پوهنتون کې زده کړې پیل کیږي، هغه د کیمیا مضمون لیکچرونو سربیره د هنرونو او د مهندسي معماري لیکچرونو کې هم برخه اخیستله. د فزیک سره د هغه لیواتیا د پوهنتون په دریم کال کې پیل شوه. په 1925 کال کې د هارورډ پوهنتون څخه د کیمیا په برخه کې فارغ شو او بیا انګلیستان کې یو څه موده په کیمبرج کې د فاویندیشن کیمیا لابراتوار کې تېر کړل. هغمهال اروپا د فزیکپوهنې یو پرمختللي مرکز و، چیرته چې په 1920 د کوانټم فزیک تیوري یا د اټوم بم تیوري رامنځته شوې ده.

هغمهال اروپا د وخت اټومي څېړنو مخکښ مرکز و. رابرټ اوپین هایمر بیرته جرمني ځي، تر څو د ګوټینګن پوهنتون کې د کوانټم فزیک لوړې زده کړې ترسره کړي. په هغه وخت کې د جرمني ګوټینګن پوهنتون د کوانټم فزیک په برخه کې یو نامتو پوهنتون و. په جرمني کې له ځینو نورو مشهورو ساینسپوهانو سره اشنا کیږي. دوی په خپلو کې خپل اندونه او تجربې تبادله کولې او شریکولي. نومورې له ادوارډ ټیلر سره هم اشنا کیږي، هغه د ,,هایډروجن بم پلار,, و. اوپین هایمر د جرمني ګوټینګن پوهنتون کې د کوانټم فزیک کې ډوکټورا باندې کار پیل کړ. د اټوم بم په اصل کې د کوانټم فزیک پر بنسټ ولاړ دی. په 1930 مو کلونو کې کوانټم فزیک یو نوي علم و. رابرټ اوپین هایمر د فزیکپوهانو دویم نسل سره تړاو لري، کومو چې د کوانټم فزیک کې ځیرني، پلټنې او کار کړي دی. په سویس او هالینډ کې د یوې لنډې مودې کار کولو ورسته بیرته امریکې ته ورستنېږي.

په 1940 کال کې د متحده ایالاتو حکومت لخوا د اټومي ځیرنو پروژې کشفیات د پوځي موخو تر لاسه کولو لپاره وګمارل شو، چې موخې په 1938 کال کې د اټومي هستې انحلال یا د اټوم هستې ته سوری ورکول او کشفول و. رابرټ اوپین هایمر په انځورونو کې تل په خوله کې له یوه سیګریټ یا پایپ سره لیدل کیږي. هغه ځښت ډېر سیګریټ څکولو او د ستوني سرطان د ناروغې له املې ومړ. کله چې نومورې پر خپلو کارونو تمرکز کاوه، کله نا کله ډوډۍ یا خوراک ترینه هیریدلو. په 1965 کال کې د ستوني سرطان ناروغي تشخیص وشو، جراحي عملیات هم وشو، د شیمو تراپي او د وړانګو درملنې یې هم وکړه، خو بالاخره ټولې هڅې بې ګټې شوې. په 1969 کال کې رابرټ اوپین هایمر د 62 کلونو په عمر ومړ. هغه د اټومي بم پروجېکټ یوازینې کارکونکی نه و، چې د سرطان په ناروغې اخته شو. داسې شواهد شتون لري، چې د پروجېکټ ډېرۍ کارمندانو ترمنځه د پلوټونیم سره د کار کولو له املې د سرطان ناروغې پېښې په کې زیاتې شوې وې.

پرته له شکه رابرټ اوپین هایمر نړۍ اټومي دور ته بوتله، نومورې د نړۍ لومړنۍ اټومي بم د نیو میکسیکو په دښتو کې په یوه پټ لابراتوار کې جوړ کړ. ایا دغې افسانوي تیوریکي فزیکپوه په ریښتیني مانا سره د خپلې اټومي څېړنېزه بریا په اړه پېښیماني وښودله.؟ حقیقت لږ تر لږه همداسې لکه د اټوم بم جوړولو ترشا ساینسي پېژندلې څېړنو په څېر پټ پاتې شوې دی. رابرټ اوپین هایمر یو لوړ فکره انسان و، هغه د دریو کلونو ورسته د هارورډ پوهنتونه د summa cum laude په ډېره اعلی درجه فارغ کیږي. له دې ورسته هغه د انګلستان په کیمبرج پوهنتون کې تیوریکي فزیک لوړې زده کړې ترسره کړې او په 23 کلنۍ کې د جرمني له ګوټینګن پوهنتون کې د ډوکټورا سند ترلاسه کړو. د خپلو علمي ساینسي څېړنو په ترڅ کې د کوانټم تیوري ته وده ورکړه او نومورې ډېرې علمي مقالې او علمي څېړني له نیوټرون څخه رانیولې بیا په کایناتو کې تر تور سورې پورې پلټنې ترسره کړې دي.

ورسته له هغې چې متحده ایالات په 1941 کال کې په دویمه نړیواله جګړه کې له متحدینو سره یو ځای شول، د امریکا دفاع وزارت رابرټ اوپین هایمر ته دنده وسپارله، چې د منهاټن مخفي یا پټې پروجېکټ مسوولیت په غاړه واخلي، څو اټومي وسلې ته وده ورکړي او اټومي بم جوړه کړي. اټومي وسله په یوه پټ لابراتوار کې جوړه شوه، لاس الاموس په متحده ایالاتو کې هغه سیمه ده، چې لومړنۍ اټومي بم په کې جوړ شو.

د منهاټن پروجیکټ

په 1939 کال د سپټمبر په لومړۍ نېټه په اروپا کې دویمه نړیواله جګړه پیل شوه. د جرمني نازي امپراتوري وسله وال پوځ په څو میاشتو کې ماسکو ته نږدې شوې و. په 1941 کال کې د دسمبر په اوومه نېټه په پرل هاربر باندې د جاپان خونړۍ برید سره د امریکا متحده ایالاتو په جګړه کې د ښکیلیدو نېټه شمېرل کیږي. په 1942 کال کې جاپان د هېټلر د خوشاله کولو لپاره د الاسکا په یو بندر باندې برید وکړ او امریکایي تاپوګان اشغال کړل. لنډه دا چې په پایله کې واشنګټن دې ته اړ کیږي، څو د اټوم بم جوړولو یو پټ پروګرام باندې کار پیل کړي. امریکایانو غوښتل داسې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

یو بم جوړ کړي، چې د نورو چاودیدونکو بمونو ځواک په پرتله ډېر قوي وي او د دودیزو بمونو ویجاړونکی ځواک دړې وړې کولو توان او وړتیا ولري، چې هغه د اتوم بم جوړول و.
په 1938 کال په ډسمبر میاشت کې د جرمني فزیکپوهانو اوتو هان او فریټخ شتراسمن پلټنو دا ثابته کړه، چې د یورانیمو اتوم په دوو نورو اتومونو کې ویشل کیږي. له دې سره د اتومي هستې انحلال کشف وشو. یوازې څو دقیقې ورسته اوپین هایمر له دې مهم خبر څخه خبریږي. فزیکپوه اوپین هایمر په دې پوه شو، چې دا طریقه په ډیر لږ وخت کې د لوی مقدار انرجي ترلاسه کولو یا تولید لپاره کارول کیدلې شي او په دې توګه کولی شي، په تیوریکي توګه یو اتوم بم جوړ کړي. د همدې کال د اګسټ په میاشت کې انشټاین د امریکا ولسمشر روزولټ ته یو مشهور مهم لیک وراستوي، په لیک کې هغه ته دا خبرداری ورکوي، چې په جرمني کې د اتوم بم په جوړولو باندې کار روان دی او د اتوم بم جوړولو احتمال شته. د امریکا ولسمشر د دې لیک په غبرګون کې سمدلاسه یوه کمیټه د اتوم بم جوړولو او څرنګوالي لپاره جوړه وي. د اتوم بم جوړولو په همدې لومړني پړاو بهیر کې اوپین هایمر ډاډمن و، چې یوازې یو اتومي بم به هیټلر له اروپا څخه ورک کړي. په اروپا کې د فاشیزم خپریدو له ویرې یهودۍ اوپین هایمر ځښت ډیر فعال او متحرکه شوي و. په ورته وخت کې استخباراتي سرچینو دا راپور هم ورکړي و، چې جرمني خپل اتومي پروګرام جوړ کړي دی او ښه پرمختللي هم دی.
په 1939 کال په سپټمبر کې ډنمارکی فزیکپوه نیلس بوهر د امریکا لاس الاموس ته راځي، هغه نه غوښتل، چې د اتومي بم جوړولو کې کار وکړي یا ملاتړ وکړي، بلکې هغه غوښتل، ساینسپوهان فکر کولو ته وهڅوي، چې ایا دغه د بشریت ضد بم په ریښتیا سره جوړ کړو. د ډنمارکي فزیکپوه فکر کولو طریقه پر اوپین هایمر باندې خورا ډیر اغیز وکړ. چې دغه بم به د انسانیت یا بشریت تاریخ په بشپړ ډول او په ژوره توګه بدل کړي. بوهر او اوپین هایمر بیا هم ډاډمن وو، چې اتومي بم به د بشریت لپاره سوله ګرانتي یا تضمینه کړي.
د ویاړ مډالونو او تر امنیتي ګواښونو پورې د منهاتن پروجیکټ شاخوا 1,9 میلیارده ډالر لګښت درلود. په 1942 کال رابرټ اوپین هایمر په لاس الاموس لابراتوار کې کار پیل کړ. رابرټ اوپین هایمر د سلګونو او بیا ورسته د زرګونو کارګرانو په شمول د اتومي بټۍ څېړنیزه ټیم چې په هغه وخت کې د وخت تر ټولو غوره عالي ذهنونو سیانسپوهانو څخه جوړ و، د بریالیتوب په موخه مسوولیت په غاړه درلود. په 1945 کال کې د جولای 16 مه نیټه رابرټ اوپین هایمر او د هغه ټیم د لاس الاموس په سویل کې په یوه پټ ځای کې راټول شول، چیرې چې دوی د ترینیټي ازمویښت تر سره کړ. د ترینیټي ټست د نړۍ لومړني اتومي چادونه وه. د نړۍ لومړنۍ اتومي چاودنې پرمهال د نړۍ امنیتي وضعیت خورا کرکیچن و، په بله وینا نړۍ په اور کې سوځیدله، ځکه د اتومي څېړنو څېړنوال پوهیدل، چې د اتوم بم د ,, کادجیټ،، په نوم یادیدو د نړۍ برخلیک بدلولو ورتیا لري. دوی په دې باور درلود، چې اتومي وسلې به دویمه نړیواله جګړه پای ته ورسوي. که څه هم په اروپا کې جګړه پای ته رسیدلې وه، خو د متحده ایالاتو سیاسي واکمنانو پر جاپان باندې د بریدونو تمه او نیت درلود، څو ډېرې وینې وبهیږي. د اتومي وسلې کارولو اصلي ګواښمنه موخه دا وه، څو د جاپان حکومت تسلیمي ته مجبور کړل شي. ساینسپوهان د خپلو څېړلو په ترڅ کې د اتومي بم په جوړولو او وده کولو کې بریالي شول.
په 1945 کال کې د جولای په 16 مه نیټه د ټرینټي ازموېښت څخه 21 ورځې ورسته د 1945 کال د اګسټ په شپږمه نیټه د اتوم بم په لومړي ځل وکارول شو. دوه هغه بمونه چې رابرټ اوپین هایمر جوړ کړي وو، د 1945 کال د اګسټ په شپږمه نیټه امریکایانو په هیروشیما کې خپل اتوم بم وغورځاوه. دري ورځې ورسته په ناګاساکي باندې دویم بم وغورځولو. لومړی بم د جاپان هېروشیما ښار یو دم خاوري ایري کړ، دري ورځې ورسته دویم بم د ناګاساکي پر ښار وروغورځول شو. لږ تر لږه 110 زره کسانو خپل ژوند سمدستی له لاسه ورکړ. د 1945 تر پایه 130000 نور د دې اتومي بمونو د پایلو او زیانونو له امله مړه شول. اکثریت قربانیان ملکي وګړي ول، په راتلونکو ورسته کلونو کې نوره څومره ووژل شول، سمه پته یا احصائیه لا نشته او ودان ښارونه په بیساري ډول ویجاړ کړل شول.

د ناګاساکي بم غورځولو شپږ ورځې ورسته د جاپان امپراتور هیروهیټو د خپل هیواد جاپان تسلیمیدل اعلان کړل. رابرټ اوپین هایمر د همدې کمیټې غړي و، کوم چې زر تر زره د جاپان په وړاندې د بم کارولو سپارښتنې کولې. اوپین هایمر ډېرې جایزې ترلاسه کړې، د امریکا متحده ایالاتو تر ټولو لوړه ملکي جایزه یې ترلاسه کړه. خو کله چې اوپین هایمر د اتوم بم غورځولو پایلې ولیدلې، هغه په خپله د نورو اتوم بمونو کارول وغندل او د اتومي وسلو او انرجۍ نړیوال کنټرول غوښتنه یې وکړه. هغه په خپله د خپلې نوی اختراع تر ټولو لوی مخالف وګرځید.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په هر صورت د امریکا متحده ایالاتو اټومي بم ازمویښتونو ته دوام وکړو، د جګړې ورسته ساینسپوه ټپلر د سوپر بم یا د هایدروجن بم جوړولو ته دوام ورکړ. دغې هایدروجن بم د هیروشیما بم په پرتله شاخوا څلور زره ځله ډیر چاودیدونکي ځواک لرلو. په 1952 کال کې د امریکایانو لخوا هایدروجن بم وازمویل شو. امریکایانو ان په ټلویزون کې په ژوندۍ بڼه اټومي ازمویښتونه ښودلي دي. تاریخ پوهان لا تر اوسه پر دې بحث کوي، چې ایا د متحده ایالاتو حکومت په قصدي ډول د ساینسپوهانو او ځیرنوالو غوښتنې له پامه وغورځولې، امریکایانو یوازې په پوځي اهدافو بریدونه پیل او ترسره نه کړل، بلکې په ملکي عامه ځایونو باندې ترسره کړل، ترڅو جاپان تسلیمدو ته اړ باسي. د هیروشیما د برید په شپه رابرټ اوپین هایمر د لاس الاموس لابراتوار کې د ځیرونکو لخوا وستایل شو، رابرټ اوپین هایمر وویل: چې د هغه یوازینۍ خواشینۍ دا ده، چې د هغه اټومي بم په ټاکلې شوې موده کې بشپړ نه کړ، ځو د جرمني په وړاندې کارول شوی وای. که څه هم اوپین هایمر یوازې د نړۍ لومړني اټومي بم اختراع نه کړ، خو هغه د منهاټن پروجکټ د یو لوړ پوړي ساینسپوه په توګه په بریالیتوب کې مهم رول ولوباوه. له همدې امله اوپین هایمر د ټایمز مجلې په پوښ کې د ,, اتوم بم پلار,, په نامه یاد شوي دی.

رابرټ اوپین هایمر ولې اټوم بم اختراع کړ.؟

د دویمې نړیوالې جګړې په بهیر کې د امریکا حکومت په زیاتیدونکې ټوګه اندیښنه درلوده، چې نازي جرمني ممکن لومړني هیواد وي، چې د اټومي بم جوړولو یا یورانیمو پروجېکټ چارې پیل کړي وي، د همدې ګواښ د مخنیوي لپاره امریکا د منهاټن پروجېکټ او اټومي بم جوړولو چارې او پراختیا ته مخه کړه.
د 1941 کال د ډسمبر په شپږمه نېټه یوه ورځ مخکې په پرل هاربر سیمه کې د امریکا پر جنګي بیړیو یو لښکر باندې د جاپان ناڅاپه هوایي برید ترسره کیدو ورسته د امریکا حکومت د اټومي وسلو د جوړیدو پریکنده پریکړه وکړه. له دې لوی پرېکړې ورسته متحده ایالات د نیو میکسیکو په دښته کې خپله لومړني اټومي ازمویښت ترسره کړ.
د 1945 کال د جولای په 16 مه نېټه د سهار په پینځه بجو او دیرشو دقیقو د نیو میکسیکو په دښته کې د یوې سترې رڼا روښانه وړانګې خپرې شوې، چې رڼا یې د زرو لمرونو له رڼا څخه ډیره روښانه ځلیده. د اور توپ یا غوندارې ډوله وړانګو د خپل شاوخوا هر څه له منځه یوړل او د یو مړغړي په څیر یو ډول وریځ یې په اسمان کې رامنځته کړه، چې له دولسو کیلو مترو ډیره لوړه فضا ته پورته شوه. د دغې اټومي وړانګو رڼا رنګ لومړي له سرو زرو څخه ارغواني ته واوښت، بیا ویولېټ یا بنفش، خړ او نیلي رنګ اختیار کړ. د یوې ثانیې په طول کې په میلیونمه برخه کې حرارت شګې شیشې ته ذوب کړې یا شپګې یې یودم په شیشه بدله کړه او بیا د دوړو یا ګرد او غبار یو مشروم اسمان ته پورته شو، هرې خوا ته د دوړو فشار څپې خپریږي شوی.
سانیسپوهانو او د رابرټ اوپین هایمر ټیم خپله دنده ترسره کړه، ورسته له هغې کله چې اټومي چاودنه یې مکمله ترسره کړه او د نړۍ اټومي وسلې چاودنه ولیده، دوی له یو بل سره وخندل او لاسونه یې یو بل ته سره ورکړل، د دې بریالي ورځې د لمانځلو لپاره د براندي پیکونه سره وجنګول او وڅښل. خو دوی بیا د دې وژونکي خطرناکې وسلې پر پټنسیل یا فوقعلاده ځواک باندې فکر وکړ، کومه وسله چې دوی جوړې کړې ده، دوی یوازې د نړۍ لومړني اټومي وسلې ته چاودنه ورکړه. دغه چاودنه د Trinity یا دري اړخیزه کوډ په نامه ترسره شوه. د یوې ساینسي بریا په نامه ونومول شوه. رابرټ اوپین هایمر د بشریت تاریخ تر ټولو پیاوړې خطرناکه بده وسله اختراع کړه. په دې موخه چې اټوم بم به د نړۍ ټول جنګونه پای ته ورسوي. دوی اټوم بم د سولې د تامین په پلمه جوړ کړ.؟. لږ ورځې ورسته د اګښټ په شپږمه نېټه یوې امریکایي الوتکې د جاپان په هیروشیما ښار باندې د اټوم بم وروغورځاوه. دري ورځې ورسته یو بل اټومي بم په ناګاساکی ښار باندې ورواچول شو، چې د 200000 ډیر خلک وسوځول شول یا وژنکو اټومي رادیواکټیفي وړانګو ووژل. فزیکپوهان پوه شول، چې ګناه څه شي ده او د دوی دا پوهه به هیڅکله دوی په بشپړه توګه په ارامه پرې نه ږدي. د بشریت په وړاندې دې ستر ظلم او ترهګرې وسلې سره د یهودي جې رابرټ اوپین هایمر نوم مترادف دی. له دې امله د نړۍ په تاریخ کې د هغه نوم د اتوم بم پلار په نامه ثبت شوي دی.
د اټوم بم جوړیدو دریو کاله ورسته، د 1945 کال د جولای په 16 نېټه د اټومي بم لومړنۍ ازمویښت ترسره شو. د همدې کال د مې میاشتې په پیل کې جرمني تسلیم شو، خو په امریکا کې د اټومي بم جوړولو چارې په شددت سره روانې وې. د امریکا حکومت د دې اټومي ازمویښت په اړه روسیې ته مالومات ورنه کړل. ولسمشر ټرومن غوښتل، چې د جرمني پوټسدم کنفرانس په جریان کې د روسیې ستالین له خپل اټومي پروګرامه خبر کړي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پر جاپان اتومي بم غورځول بشريت ته يو جدي خبرداری



د 1945 کال د اګسټ په شپږمه نېټه د ګهيځ په اتو بجو، شپارلسو دقيقو او دوه ثانيو باندي د امريکا متحده ايالاتو هوايي پوځ لخوا د جاپان په هيروشيما ښار باندي اتومي مرګوني بم وغورځول شو، ترڅو دغه هيواد په دويم نړيوال جنګ کي تسليميدو ته مجبور کړي. لسګونه زره انسانان په يوه وخت کي په ډېره بيرحمه توګه ووژل شول. د هيروشيما ښار د اتومي بم غورځولو سره په بشپړ ډول ويجاړ شو. دري ورځي ورسته په ناګاساکي کي بل اتومي بم وچاوديد. دا تر اوسه د نړۍ په جګړو کي لومړی او ورستی ځل دی، چې يو دولت د بل هيواد پر ضد د خپل ويجاړونکي پوځي ځواک سره اتومي بم هم کاروي. هغمهال هيروشيما کي د جاپان يوه لويه پوځي اډه پرته وه، چې شاخوا ځلويشت زره پوځيان په کي ميشت ول. په دي ښار کي نږدې 250 زره ملکي وګړي اوسيدل، له اتومي چاودنې سره سم سمدلاسه اتيا زره کسان ووژل شول. د ښار اتيا سلنه ودانۍ يو دم په ځمکه کي محوه شوې، د اور طوفان په ښار او سرکونو باندي خپور شو.

له زرو لمرونو څخه روښانه رنا دا هغه کلمي وې، کله چې په لاس الاموس کي د لومړي اتومي بم چاودنه وشوه. تر هيروشيما او ناګاساکي اتومي بريده پورې هيڅوک نه پوهيدل، چې څه به پېښ شي، که چيرې دغه نوي وسله په خلکو او ښارونو وکارول شي. کله چې په هيروشيما او ناګاساکي اتوم بمونه وغورځول شول، دوه پرمختللي ښارونه په څو ثانيو کي رنګ شول. دا يوازې اتومي چاودنې نه وې، چې د داسو جدي پايلو لامل شوي، بلکي دا بيساري راديواکټيفي وړانګي وې، چې د دوو جاپاني ښارونو خلک تر نن ورځې پورې سخت اغېزمن کړي دي. دې چاودنې د ځمکې څخه د يوې لوې وريځې په څېر وده وکړه، لکه چې دې ورځو غوښتل چې اسمان سوری کړي. ,, ما نا څاپه د سخت يخ سړه احساس وکړ، زما په ځان کي سخته ويره وغوټيده، دا څه شي دي.؟ ما مخکي هيڅکله داسي څه نه وه ليدلي، دغه لويه وريځ داسي لويده او سترە کيده، لکه چې غوښتل يې چې ټوله هيروشيما په خپل ځان کي ښخ کړي. د ونو او پانو له منځه يو طوفاني قوي باد راغي، چې په کي د کليوالو ناري سوري او چيغې زمور تر غوږونو شوې. هيروشيما يوه خړه سپره دښته وګرځيده، دغه ښار په يوه ورځ کي له خارو سره خاوري ايري شو. دغه خبري د يوه ژوندي پاتي شوي جاپاني خبري وې. له دې مالوميري چې بشريت له يوې بدې خطرناکې وسلې سره لوبې کوي. سمدلاسه ټولې د اتومي انرجۍ بټۍ او اتومي وسلې بايد خوڼۍ او بې مانا وګرځولې شي.

له همدې امله هيروشيما د سړي جګړې په بهير کي يو وېرونکی سمبول ګرځيدلي و. د اتومي وسلو کارول او ويجاړول بشريت ته او د نړۍ ولسمشرانو ته يو جدي خبرداری ګرځيدلي دی. د هيروشيما او ناګاساکي اتومي بريد دا تشريح کوي، چې دا بې مانا اتومي بريد يو بد ترين او فجيع ترين ډول د انسانانو نسل وژنه او يو جنګي جنايت دی. د امريکا دغه بريد د شوروی اتحاد په وړاندې د خپل پوځي قدرت ښودلو په مانا هم تعبير کېږي، ځکه چې روسيې په اتم د سپټمبر د جاپان په وړاندې جګړه کي ورداخل شو. امريکايانو داسي انګيرل، مور په نړۍ کی تر ټولو ځواکمن ملت يو، کله چې مور لومړنی اتومي بم جور او وکارولو.

د اوپين هايمر زوال

کله چې اوپين هايمر د هايدروجن بم جوړيدلو او د پراختيا په وړاندې خپل منفي دريځ څرګند کړ، هغه يوازې ځان ته دښمنان ډير کړل. په دې ډله کي ساينسپوه ادوارډ ټيلر د هايدروجن بم پلار په نامه پېژندل کيدو او بل ساينسپوه ليوس شټراس هم شامل ول. دوی د (AEC) غړي ول، چې د اتومي وسلو د توليد او زياتوالي په هکله خپله رائيه ورکړي وه. په ځانګړي توګه لويس شټراس غوښتل، چې د اوپين هايمر مسلکی کيريری يا مسلکي وړتياوې له منځه يوسي. په 1946 کال کي اوپين هايمر د متحده ايالاتو تر ټولو لوړه ملکي جايزه ترلاسه کړه. په 1947 کال کي د پرنسټون ښار کي د پرمختللو مطالعاتو انستيټوټ رييس وټاکل شو. دا مهال اوپين هايمر د امريکا يو اتل ګرځيدلی و. د امريکايي ټولنې د پراخو پرګنو ملاتړ ترلاسه کړي و. اوپين هايمر د نړيوالي جګړې د چټکي پای ته رسيدو له امله وستايل شو. په ناګاساکی باندې د اتوم بم غورځولو څو ورځې ورسته، اوپين هايمر د امريکا ولسمشر ته يو ليک واستولو، په هغه کي د اتومي بمونو او اتومي وسلو د نه کارولو بيرنۍ مشوره ورکړي وه. د هغه په وينا، مور يو داسي شي اختراع کړي، يوه وحشتناکه وسله، چې مور د نړۍ له ټولو معيارونو او نورمونو په کومو کي چې مور لوی شويو، وراخوا دا يوه شيطاني بده وسله ده.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په 25 اکتوبر اوپين هايمر سپيني مانۍ ته وردعوت شو. د ولسمشر هيري ټرومن سره ليدنه او خبري اتري نورمال ترسره نه شوې. ځکه اوپين هايمر ولسمشر ټرومن د يوه احمق انسان په توګه وپيژند. ولسمشر په دې باور و، چې روسيه به هيڅکله اټوم بم توليد نه کړي. اوپين هايمر ولسمشر ټرومن د اټومي وسلو د نړيوال کنټرول سازمان له پلانونو خبر کړ، خو ولسمشر د هغه خبرو ته په جدي توګه ونه کتل، ځکه ولسمشر يوازې متحده ايالات د اټومي وسلې په انحصار کې ګټلو او پيژندلو. کله چې اوپين هايمر وپوهيدو، ولسمشر ته وويل: ,, زما لاسونه په وينو کې ککړ دي,,. دغې خبرې ولسمشر ټرومن دومره په غوسه کړ، چې غوندې يې سمدلاسه پای ته ورسوله، اوپين هايمر يې د
(Cry-Baby Scientist) يا ژړه ونکی ماشوم ساينسپوه په نامه ياد کړ. ټرومن اوپين هايمر ته وويل: چې د هيروشيما خلکو ته دا مهمه نه ده، چې چا دا بم اختراع کړ، دوی ته يوازې هغه سړی مهم دی، چا چې دا بم پرې غورځولې دی.
د دې سربيره د ډيرو امريکايانو په سترګو کې اوپين هايمر يو اغزی ګرځيدلی و. د هايدروجن بم پراختيا سره مخالفت د امريکا ملي امنيت ته يو ګواښ ګڼل کيدو او په دې توګه د اوپين هايمر د نه همکاري له امله، روسيه د اټومي وسلو په سيالۍ کې برلاسي ښکاريدله. اوپين هايمر د ټاکټيکي اټومي وسلو د پراختيا پلوي کوله، دا هغه اټومي وسلې وې، چې د جګړې په ډګر کې کارول کيږي، دغه وسلې د ښارونو ورانولو او سترو ويجاړو لپاره نه کارول کيږي. بالاخره ولسمشر او متحدين يې د پايلې ته سره ورسيدل، چې نه يوازې رابرټ اوپين هايمر پخواني کمونيستي تمايلاتو لرې او د کمونيستانو يو پياوړي خواخوږی دی، بلکې د شوروی اتحاد يو جاسوس هم دی. د اوپين هايمر د کمونيستي تيرو اړيکو او د هايدروجن بم نه توليد له امله امريکا ته يو خاين ونومول شو. له دې ورسته په 1953 کال کې اوپين هايمر د امريکا ملي امنيت ته د ګواښ رامنځ ته کولو په درجه بندي کې نيول شو. کله چې مستنطقينو او پلټونکو له اوپين هايمر پوښتنې دروپرنې پيل کړې، هغه ته په ځمکه کې دوزغ وښودل شو، کله چې هغه پوښتل کيدو، چې ولې، هغه به په ځواب کې ويل، ،، ځکه چې زه احمق وم،،
د اکتوبر په 16 مه نېټه اوپين هايمرد منهاټن پروجېکټ څخه استغفا ورکړه. په همدغه ورځ يوه وينا هم وکړه. چې په کې د اټوم بم د ګواښونو په اړه خبرداری ورکړ. که تاسو د دې ښمنۍ نړۍ د وسلو په زيرمتونونو کې اټومي بم وراضافه کړي، نو هغه وخت به راشي، چې بشريت به د لاس الاموس او د هيروشيما په نومونو تاسو ټولو ته لعنت وکړي. د نړۍ خلک بايد سره متحد شي، که نه دوی به تباه او هلاک شي. دغه وسله يوه ډيره بده وسله ده، يوه ډيره وحشي او ترهګره وسله ده. اوس بايد دا پوښتنه وشي، چې ايا ساينس د انسانيت لپاره ښه دی که نه دی.؟
د باګاوادګيتا د هندوانو يو مقدس کتاب دی، د دوی يوه خدای ويشنو يوه جمله يا وينا د رابرټ اوپين هايمر، چې د سينسکريټ په ژبه پوهيدو په ذهن کې داسې فکر خطور کوي ,, زه اوس هغه مرګ ګرځيدلی يم، کوم چې هر څه لوټوي او نړۍ ته ټکان ورکوي.,, "Now, I am become Death, the Destroyer of Worlds,,
په 1965 کال کې د ټېنټي بريالي ازمويښت ورسته رابرټ اوپين هايمر په يوه مرکه کې هم وويل: اوس يوازې زه مرګ يم، د نړۍ جهانونو ويجاړونکي,, هغه زياته کړه، چې تر ډيره بريده مور ټولو داسې فکر کولو.

د اټومي وسلو سيالۍ او د اټومي وسلو سيالۍ پای

د نړيوالې جګړې ورسته د امريکا د اټوم بم ډېرې نور اټومي ازمويښتونه ترسره کړل، چې نورو هيوادونو هم د اټومي وسلو سيالیو ته ځانونه سمبال کړل. د 1949 کال د اګسټ په 29 مه نېټه شوروي اتحاد هم لومړني اټومي بم ته په بريالیتوب سره چادونه ورکړه. په 1952 کال د اکتوبر په دويمه نېټه بريتاني هم خپلې ځپرنې بشپړې کړې او د خپلې اټومي وسلې ځښتنه شوه. له دې ورسته چين د شوروي اتحاد له تخنيکرانو مرسته ترلاسه کړه، د 1964 کال د اکتوبر په 16 مه نېټه چينايانو هم په اټومي وسلو سمبال شول. په 1952 کال کې د اکتوبر په 31 مه نېټه امريکايانو د اټومي بمونو پراختيا ورسته هايدروجن بم ته پراختيا ورکړه، چې د ويجاړولو ځواک يې د اټوم بم په پرتله 800 ځله نور زيات قوي و. تر اوسه دا پته نېشته، چې شوروي اتحاد ته چا د اټوم بم تخنيک ورکړ او چا دا چل ورزده کړ.
د 1952 کلونو راهيسې د ويټنام، کوريا او کيوبا کرکيچ، پر مهال نړۍ د متحده ايالاتو او شوروي اتحاد ترمنځ د دريمې يا د لومړۍ نړيوالې اټومي جګړې په څنډو کې ولاړه وه. امريکا او روسيې په الوتکو، سمندري جنګي بيړيو، اوبټلونو او لېږې ويشتونکی توغنديو په سرګولو کې د خپلې اټومي وسلو وړول او ويشتلو زمينه مساعده کړې ده.
تر 1963 کلونو پورې متحده ايالاتو او شوروي اتحاد له 200 څخه ډېرې د ځمکې لاندې اټومي ازمويني ترسره کړې. دا ازمويني د راډيواکټيفي ککړتيا له امله اوس دروليو شوې دي. متحده ايالاتو، لويې بريتانې او شوروي اتحاد د محدودو ازمويني بندېز تړون (LTBT) لاسليک کړي. د دې تړون له مخې په فضا يا اټمسفر کې، د اوبو لاندې په

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سمندرونو کې نوره اټومي ازمويښتونه منع دي. خو د دې ټرون سربيره اټومي ازمويښتونه د ځمکې لاندې لا دوام لري.
د 1980 لسيزې په نيمايي کې متحده ايالاتو او شوروي اتحاد شاوخوا 60000 اټومي سرګولي توليدې کړي او د نړۍ په ډيرو برخو کې نصب کړي دي. دا اټومي وسلې کولې شي، نړۍ له يو ځل ځخه ډيره ويجاړه کړي يا له منځه يوسي. د اټومي سيالۍ پای سربيره مورِ نن ورځ د شاخوا 16000 اټومي بمونه له ګوابښ سره مخامخ يو. که څه هم ډيرۍ هيوادونه اټومي وسلې درلودل او کارول غير معقول او ناسم کار بولي. خو تر ټولو لوی اټومي ګوابښ لا هم شتون لري، چې نړدې 1800 اټومي وسلې د يوې بټن په ټينګولو توغولو ته د تيارسئ په حال کې چمتو دي. هند او پاکستان يو بل ته د اټومي وسلو ګوابښونه کوي. د دې احتمال ډېر شته، چې پاکستاني اټومي وسله د ترهګرو لاسه ته ورشي. افغانستان ته د پاکستاني اټومي وسلو ستر ګوابښ متوجې دی. د نړۍ نهه هيوادونه په اټومي وسلو سمبال دي، خو تر ټولو خطرناک بې ثباته، له تجزيې سره مخ پاکستان دی. د اټومي قدرتونو په نوی اټومي نړۍ کې پاکستان د لسيزو راهيسې ترهګر پاللي دي. اوس پاکستان د همدې ترهګرو د لوبو ډګر ګرځيدلي دی. له همدې امله ترهګر پاکستاني اټومي وسلو ته ډېر نړدې شوي دي. پرته له شکه پاکستان د سقوط په لور روان دی. فاسدو، بې کفايتو چارواکو، فاسدو کودتاچي پوځيانو ترهګر پال پاکستان له يو ستر ناورين سره مخامخ کړي دی. بې ثباته مصنوعي جوړ پاکستان له خپلو دواړو ګاونډيو هيوادونو سره تاريخي جغرافيايي شخړې لري. که د پاکستان اټومي وسلې د ترهګرو لاس ته ورشي، په ټولو به خوب حرام شي، يا که چېرې په پاکستان کې د ګډوډيو پېښې د دې لامل شي، چې اټومي وسلې د سختدريځو غير دولتي لوبغاړو لاس ته ولويږي، دا شونې ده، چې د هند يا افغانستان سره په سرحدي شخړو کې دا اټومي وسلې وکارول شي. که څه هم د ايران او شمالي کوريا اټومي پروګرامونو ګوابښو د نړيوالو رسنيو سرليکونه جوړوي، خو په حقيقت کې د پاکستان اټومي وسلې په لومړی سر کې افغانستان، هند او ټولې نړۍ ته لوی ګوابښ جوړ کړي دی. د نورو اټومي هيوادونو په پرتله، د پاکستان اټومي وسلو تخنيکي ځانړنه لوړ پوړي پوځيان کوي. له همدې امله په دې تېرو وختونو کې د پاکستان اټومي وسلو د دولتي سلسلې مراتب يا زنځيرِ کنټرول په جدی توګه له کنټروله وتلي. د اټومي وسلو د قوماندې په مرکز کې د اوامرو سلسلې په غړو کې، د پوځ قوماندانو ترمنځ په زنځيرِي اړيکېو سوري رامنځته شوي دي، چې د ترهګريزو ايډيالوجيکي يا د شخصي ګټو او مالي فاسد له امله اټومي وسلې او توکي ترهګرو ډلو ته په اسانه ټوګه وراوړيدلي شي.
تر 2002 کلونو پورې پاکستاني ساينسپوه عبدالقدېر د پيسو په بدل کې د پټو تماسونو له لارې په ايران، کمونيستي دولت شمالي کوريا او ليبيا باندې د اټومي وسلو ټيکنالوجي پلورلې ده. د سي آي اې پخوانی مشر جورج ټينيټ په وينا، عبدالقدېر خان لږ تر لږه د اسامه بن لادن په څير خطرناکه سړی و. د لويديځو استخباراتي ادارو ټول هغه مالومات ارزولي، کوم چې څنګه خان په مکرر ډول د اټومي تيکنالوجي په قاچاق کې ښکېل و. ويل کيږي، چې شمالي کوريا پاکستان ته د اټوم ټيکنالوجي په بدل کې پيسې ورکړي دي. دوو نورو پاکستاني جنرالانو له شمالي کوريا څخه پېنځه ميليونه ډالر ترلاسه کړي دی. دا په دې مانا ده، چې دا تر اوسه پورې په نړۍ کې د اټومي وسلو قاچاق تر ټولو لويه په زړه پورې خطرناکه قضيه ده.
دې پس منظر ته په کتو سره د پاکستان د اټومي وسلې کنټرول رژيم د ړنګيدو په حال کې دی. د نورو اټومي ځواکونو په پرتله پاکستاني اټومي وسلې لومړي خپله پاکستانيانو ته بيا افغانستان ته ستر ګوابښ پېښ کړي دی. که څه هم د دې ټولو سرغړونو جزيات روښانه نه دي. خو دا روښانه ده، چې دغه سر غړوني يوازې تر يوه شخص پورې محدودې نه دي. د بېلګې په توګه د عبدالقدېر د څېړنيز لابراتوار مرستيال محمد فاروق او نور پوځي جنرالان په کې شامل دي.
ولاډيمېر پوتين او ديمېتري ميدويديف په ښکاره توګه په پوځي پريټونو کې اروپا ته ګوابښونه کوي او شمالی کوريا امريکا ته ګوابښونه کوي. دا اټومي ګوابښونه نړيوال امنيت ته يو جدي ګوابښ دی. اټومي وسلې د بشريت په وړاندې ډله ييزې ويجاړونکي وسلې دي. اټومي وسلې خورا لوی ويجاړونکي ظرفيت لري او پرته له توپيره وژنې کوي. دا په دې مانا ده، چې دغه وسلې د سرتيرو، ښځو، ماشومانو، بوډاګانو، لويانو، او ځوانانو ترمنځ توپير نه کوي. له همدې امله د اټومي وسلو سره ګوابښ کول او کارول د نړيوالو قوانينو له مخې منع دي او له همدې امله د اټومي وسلې کارول جنګي جرم او جنايت دی. نن په نړۍ کې نهه هيوادونه اټومي وسلې لري، نن په قصدي يا غير قصدي توګه د اټومي وسلو کارولو ګوابښ تر هر کله اوس خورا ډير او لوړ دی. په اټومي جګړه کې ګټونکي نشته.
اوپين هايمر د اټومي ټېست ورسته وويل: مورِ ټول په دې ښه پوهيدو، چې نړۍ به هغه نړۍ نور نه وي، خو د چاودنې ورسته ډيرو لږو خلکو وخندل، ډيرو لږو خلکو وژل، خو اکثريت غلي او خاموشه پاتې شول.

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ